**1/30/2023 تازه معلومات: هغه افغانان چې د امریکا جنوبي پولې څخه د پناه غوښتونکي په توګه داخلیږي**

زیات شمیر افغانان د مکسیکو څخه د جنوبي پولې له لارې د امریکا متحد ایالاتو ته د پناه غوښتونکي په توګه داخلیږي. هغوی چې لدې لارې د امریکا متحده ایالاتو ته داخلیږي د مشروط آزادی حالت (parole) نشي ترلاسه کولی بلکه د کډوالی محکمې ته د حاضریدو لپاره نیټه ورکول کیږی ترڅو د پناه غوښتونکي حالت (Asylum) لپاره غوښته وکي.

د لاس انجلس نړیوال انستیتیوت (IILA) ددی موضوع په هکله په زیات شمیر پوښتنې ترلاسه کوی، نو مهمه ده چې پوه شو مونږ څه ډول مرسته کولی شو.

**لومړی: حقوقي مرسته :** د اوس لپاره زمونږ حقوقي څانګه د دی جوګه نده چې د افغانانو د ایستلو دفاعی قضې ومنی، کله چې مو د نویو قضیو د منلو توان پیدا کړ پدی هکله به په خپل پاڼه کې مفصل معلومات له تاسی سره شریک کړو. دا مهال تاسی کولی شی د مرستی لپاره نورو غیر انتفاعی اداراتو سره اړیکه ونیسی کوم چې حقوقي خدمات وړاندی کوی. د اداراتو لست لدی لینک څخه ترلاسه کولی شی https://www.iilosangeles.org/legal-services-providers/

کچیری کوم افغان پناه غوښتونکي پدی ونه توانید چې محکمې ته له تګ مخکې حقوقي خدمات ترلاسه کړي ویره دی نه لري ځکه تاسو کولی شی د قاضی څخه د قانوني استازی د موندلو لپاره وخت و غواړی. قاضی به تاسو ته د کډوالی محکمې ته د حاضریدو لپاره بله نیټه درکړی. دا ډیره اړینه ده چې په ټاکلی نیټه کې محکمې ته حاضر شی، کچیر تاسو حاضر نه شی نو د هیواد څخه د ایستلو له ګواښ سره به مخامخ شی.

**دویم: نوری مرستی:** هغه افغانان چې د مشروط آزادی حالت (parole) نلری د لاس انجلس د نړیوال انستیتوت (IILA) د مالی مرستو او قضی ته د رسیده ګی (case management assistance)مرستو لپاره کوم چې د USCRI لخوا تمویلیږی او په همدی توګه د (AIRS) او (RFS) پروګرام لپاره په شرایطو برابر ندی.

هغه افغانان چې د مشروط آزادی حالت (parole) لرونکي ندی د غیر حقوقي مرستو (non-legal) لپاره باید د ګډوالو چارو مشر آغلې Hasmik Ktoian, ته په **hktoian@iilosangeles.org** ایمیل وکړی، هغه به لومړنی ارزونه وکړی او دا به جوته کړی چې د لاس انجلیس نړیوال انستیتیوت (IILA) څه ډول مرسته کولی شی. د اوسیدنی مرسته (Housing) زمونږ د اداری لخوا نه وړاندی کیږی.